ليکوال: شريف بهاند نيټه 2011-01-13

# طبيعي زيرمې
# د سوکالۍ وسيله او که د جګړې لامَل؟
# ۲

دربيمه زريزه:
او د طبيعي توکو پر سر سره جګړه:
د تاريخي پيښليکو له څيړنو دا روښانه شوه، چې څنګه طبيعي توکي په تيره شيطاني اوښکي، تيل او له هغو سره غاړه غاړې سپيڅلي لمبه، ګاز په نړۍ کې د سترو بدلونونو لامَل شوه. طبيعي توکي څنګه ځينو ته د بدمرغۍ وسيله او ځينو نورو ته د نيکمرغۍ لامَل، ځينو ته هم د ماتې وسيله، خو بيا د نورو لپاره د برياوو بنسټ شول. څنګه شيطاني اوښکه او سپيڅلي لمبه د نورو طبيعي اومه توکو تر څنګ د ځمکې له تورو تيارو راويستل او بيا د دوي هر يوې بيلګې ته، د ځواکمنو هيوادونو د کابينو د غونډو په روښانه او مجللو خونو کې، ترټولو لوړ مقام او د ناستې ځای ورکړ شو او څنګه ځواکمن وږ سترګي (حريص) د دوي د ترلاسه کولو په موخه دسيسې، چې پر هغو يې د جيوپوليتکو، جيواوکونوميکو او ستراتيژيکو ګټو نوم ايښی دی، طرح او هغه يې بيا د نړۍ په هغو برخو کې، چې د طبيعي زيرمو له پلوه بدايي دي، په دغې يا هغې پلمې د عمل په ډګر کې پلي کړې.
د اومه توکو په ځانګړې توګه د لرپيداکېدونکو فلزاتو او فسيلي انرژۍ دغه ارزښت ته په پام سره، له سړې جګړې څخه وروسته، نه يوازې دا چې دغه سياست بدلون و نه موند، بلکې د دربيمې زريزې په لومړۍ لسيزه کې د طبيعي توکو پر سر سيالی لا پياوړې شوه. ان د تيرې پيړۍ د ۱۹۵۰ ــ ۱۹۹۹ کال تر منځ مهربان حاکم ياني متحدو ايالتونو د نړۍ " په مهمو او کليدي ستراتيژيکو سيمو کې د خپل شتوالي او د هغه د پراختيا په ارزښت ټينګار ..." [١]کاوه. د واشنګټن د ستراتيژيستانو له نظره:
ــ لومړۍ ډله کليدي سيمې هغه هيوادونه او سيمې دي، چې دوي لا تر اوسه د اومه توکو پاتې زيرمې په خپل واک کې لري او اوسمهال هم په هغو کې دا ډول زيرمې موندل کيږي؛
ــ دوهمه ډله کليدي سيمې د متحدو ايالتونو د [بالقوه] سيالانو په ګاونډ کې پراته هيوادونه ګڼل کيږي [٢].
د نړۍ د اومه توکو پر پاتې زيرمو په تيره د تيلو او ګازو پر هغو کنترول د سترو صنعتي هيوادونو لپاره ځکه ځانګړی ارزښت لري، چې:
۱ ــ له يوې خوا د اومه توکو زيرمې مخ په خلاصيدو دي؛
۲ ــ او له بلې خوا په نړيوال بازار کې هغو ته غوښتنه (تقاضا) په ډراماتيکه توګه زياته شوې ده. دغه دواړه په دې برخه کې د تنکسياوو د رامنځته کيدو لامَل ګڼل کيږي.
د بيلا بيلو رسنيو د رپوټونو او خبرونو د ارزوني له مخې او همدارنګه د څيړونکو له څيړنو هم څرګنديږي، "هر چيرې چې نارامي دي، هلته د اومه توکو او د انرژۍ زيرمې شته دي، نو ځکه په دې سيمو کې جګړې په ډير شدت سره دوام لري" [٣]. له افغانستان څخه نيولي تر منځني ختيځ پورې، بيا د فارس له خليج نيولي تر لاتيني امريکا پورې ...، د افريقا د وچې په ځينو هيوادونو، لکه روندا، نايجيريا، د عاج ساحل، سوماليا، سيرياليون، زيمبابوې، سودان، انګولا ... او داسې نورو کې جګړې، د هغو ښې بيلګې ګڼل کيږي. همدارنګه په ګرجستان، اوکراين او قرغيزستان کې ګوډې او سياسي بدلونونه هم همداسې در واخله.
داسې برېښي، چې هغه صنعتي هيوادونه او نوي رامنځته شوي صنعتي هغه، چې د دغو توکو له طبيعي زيرمو بې برخې دي، د هغوي د سمبالښت په برخه کې له تنکسياوو سره د مخامخ کېدو په حال کې دي. نو ځکه د لومړنيو اومه توکو د سمبالښت تضمينول، هغه بنسټيزه انګيزه ده، چې ورځ په ورځ د دغو هيوادونو د بهرني سياست په بنسټيزې موضوع بدليږي.
نو ځکه ويلي شو، چې د اومه توکو د زيرمو، په تيره د لږ پيداکېدونکو منرالي او هايدروکاربني هغو کنټرول د اتلانتيک د سمندر د دواړو غاړو، د اروپايي ټولنې او متحدو ايالتونو، د جګړه ييزو پلانونو له بنسټيزو مفاهيمو څخه ګڼل کيږي [۴]. خو داسې برېښي، نوي رامنځته شوي صنعتي هيوادونه د نورو ترڅنګ د چين ولسي جمهوريت هم اوس په نړيواله کچه د اومه توکو پر سر سره جګړه پيل کړې ده. که څه هم دغه هيواد په خپله د تيلو او د لږ پيداکېدونکو منرالي اومه توکو د زيرمو خاوند دی، خو سره د هغه يې هم د افريقا د وچې او ځينو عربي هيوادونو سره د ښو اړيکو له لارې پر زياتو دا ډول کانونو کنترول ترلاسه او د هغو د رااېستلو حقوق ترلاسه کړي دي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نوځکه د اروپايي ټولني د صنايعو د څانګو چارواکو د ګواښ اعلام کړی، که اروپا د لږ پيداکېدونکو اومه توکو د ترلاسه کولو لپاره هاند و هڅه و نه کړي، نو بنايي د ټولنې د غړو هيوادونو د ډيرو اقتصادي څانګو، په ځانګړې توګه د ميکرو الکترو تخنيک او د وسلو د صنايعو د څانګو شتوالی له ګواښ سره مخامخ شي. له همدې امله د المان د صنايعو د ټولني يو لوړ پوړی چارواکي، اولريش ګريلو Ulrich Grillo ګواښ کړی، چې د لږ پيداکېدونکو اومه توکو په برخه کي وضعيت په ډراماتيکه توګه د خرابيدو په حال کي دی. د دا ډول اومه توکو شمېر، چې صادرونکو هيوادونو پر هغو ګمرکي محصولات تړي و، په ۲۰۰۸ کال کي ۴۵۰ و. خو په ۲۰۱۰ کال کي د هغو شمېر زرو توکو ته لوړ شو. د نوموړي په اند: "زيات شمېر هيوادونه، د لږ پيداکېدونکو اومه توکو د صادراتو په برخه کي په لوی لاس تنکسياوي (محدوديتونه) رامنځته کوي" [۵]. نو ځکه ګريلو Grillo د المان له حکومت او د اروپايي ټولني له مسؤل کميسيون څخه وغوښتل، چې د دغه تنکسياوو په وړاندې عکس العمل وښيي. همدې ستونزې ته په پام سره د اروپايي ټولني د صنايعو د چارو کميسار، ګونتر فرهيوګين Günter Verheugen تر هر څه دمخه دا لاندني کامونه ترلاسه لاندې ونيول:

ـ د مخ په خلاصيدونکو اومه توکو د ډولونو د ليست ترتيب؛

ـ د دغه توکو په باب له هغو افريقايي هيوادونو سره د خبرو اترو پيل، چې د دا ډول اومه توکو زيرمي لري؛

ـ او ترټولو مهم د اروپايي ټولني له خوا د چين ولسي جمهوريت ته ګواښ. ځکه دغه هيواد د لږپيداکېدونکو اومه توکو د صادراتو په برخه کي د ګمرکي محصولاتو د لوړولو له لارې تنکسياوي رامنځته کړي دي[۶] .

که د دغو توکو په ترلاسه کولو کي نوري ستونزي رامنځته شي، نو بنايي د هغو بيه لا نوره هم لوړه او په دې توګه به د صنايعو ځيني څانګي د له منځته تلو له ګواښ سره مخامخ شي. له همدې امله د متحدو ايالتونو دولت هم ګواښ کړی، که چين خپلي دغي ستراتيژۍ ته دوام ورکړي، نو دوي به دې ته اړ شي، لکه د اروپايي ټولني په څير د سوداګرۍ نړيوال سازمان WTO ته شکايت وکړي. خو د اروپايي ټولني او متحدو ايالتونو له دغو ګواښونو سره سره، بيا هم چين څو ورځي مخکي اعلان وکړ، چې د لږپيداکېدونکو اومه توکو پر صادراتو به د ۲۰۱۱ کال له پيل څخه لوړ محصولات ولګوي [۷]. له دې ارزوني دا پايله ترلاسه کېږي، چې ان لا اوس د دا ډول اومه توکو، د هغو د زيرمو او راکړې ورکړې پر سر شخړې او جګړې په ښکاره او پټه توګه رواني، چې بنستيزه موخه له دا ډول کړو وړو څخه د سيال بې برخي کول له دغو توکو څخه دي.

*************

اخځليونه:

۱ ـ **تيل او جګړه** Das Öl und der Krieg

**ليکوال:** يورګين واګنر Jürgen Wagner

ژباړونکی: شريف بهاند

**اخځای:**

**نړيواليدل او جګړه، مخ: ۴۸ ـ ۶۶**

Globalisierung und Krieg, Wagner, Jürgen: Das Öl und der Krieg. In: C. Haydt/T. Pflüger/J. Wagner: Hamburg, 2003,

۲ ـ وګورئ هماغه اثر

3- Kronberger, Hans: Blut für Öl. Der Kampf um die Ressourcen, Wien ,1998, S. 26

۴ ـ وګورئ،

تيل او جګړه

**ليکوال:** يورګين واګنر

ژباړونکی: شريف بهاند

**اخځای:**

**نړيواليدل او جګړه، مخ: ۴۸ ـ ۶۶**

Globalisierung und Krieg, Wagner, Jürgen: Das Öl und der Krieg. In: C. Haydt/T. Pflüger/J. Wagner: Hamburg, 2003,

http://www.spiegel.de/wirtschaft/unternehmen/0,1518,711559,00.html5-

۶ ـ وګورئ، هماغه اثر

http://www.spiegel.de/wirtschaft/unternehmen/0,1518,736508,00.html7-

*************


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

# طبيعي زيرمې
# د سوکالۍ وسيله او که د جګړې لامَل؟
# ۳

د سيال د له پښو غورځولو ستراتيژي:
د نړيوال سياست په ډګر کې ملي دولتونه اصلي لوبغاړي وو او دي او همداسي به هم پاتي شي. خو تاريخي تجربو دا هم په ډاګه کړې، چي د دولتونو ګټي او تګلاري او همدارنګه د دوي ترمنځ کړکيچ، تر پخوا څخه اوس په زياتيدونکي توګه د جيو ستراتيژيک او جيواکونوميک فکتوروونو تر اغيز لاندې دي. دا په دې مانا، چي سياست د ټولو پيښو ټاکونکی نه، بلکي د هغه تر څنګه اقتصادي اړيکي هم ټاکونکی رول لوبوي. تاريخي تجربو دا هم په ډاګه کړې، چي بشريت د خپلي ټولنيزې او اقتصادي ودې په ترڅ کي د وخت د تخنيکي شونتياوو په پام کي نيولو سره له بيلابيلو اومه توکو څخه ګټه ترلاسه کړې او دغو اومه توکو ستراتيژيک ارزښت خپل کړی دی. د بيلګې په توګه د صنعتي انقلاب له پيل بيا د نولسمې پيړۍ تر نيمايي پورې د انرژۍ په ډګر کي د ډبرو سکارو ستراتيژيک ارزښت درلود. خو د نولسمي پيړۍ له نيمايي وروسته، د صنعتي پراختياوو سره سم دغه رول تيلو ترلاسه کړ. دغه طبيعي توکی له ميلاد څخه ۳۰۰۰ کاله مخکي هم خلکو پيژاند [۱]. د درملني ترڅنګ هغه ان په جګړو کي ټاکونکي رول درلود. هومر Homer په خپلي حماسي، ايلياد Ilias کي په دې باب داسي ليکلي:"د ترويا خلکو سترو او چټکو بيړيو ته اوروونه ورواچول او له هغو څخه داسي لمبې او لوخړې پورته شوې، چي د هغو وژل ګران کار و"[۲]. د فارس د هغه وخت واکمن، کوروش Cyrus د بابل په نيولو کي هم له همدې مادې څخه ګټه ترلاسه کړې وه. کله چي نوموړي خپل پوځ د بابل د نيولو لپاره چمتو کاوه، ده ته د ګريوان په ګريوان جګړو خبر ورکړ شو، خو کوروش يو ځانګړی جګړه ييز تکتيک رامنځته او وغوښتل د اور په مرسته پر خپلو غليمانو برې ترلاسه کړي."موږ په پوره اندازه تور نفت او سنې (الياف) لرو، چي د هغو په مرسته به هر چيرې اور ته پراختيا ورکړو، هغو کسانو چي په لوړو ځايونو کي مورچل نيولي، يا به هغوي په چټکه توګه خپل مورچلونه خوشې کړي، يا به دوي د اور په لمبو کي سوځي" [۳].
له پورتنيو ارزونو څخه دا روښانه کيږي، چي تيل په نړۍ کي يو اوږد او ګڼ خيلوي (متنوع) تاريخ لري. د تيلو دغه ستراتيژيک ارزښت په تيره د لومړۍ او **دوهمي** نړيوالي جګړې **په بهير کي په څرګند ډول تثبيت شو**. د سړې جګړې په بهير کي هم د هغو پر زيرمو کنترول او له هغو څخه ساتنه د پوځ ټاکونکې دنده وګرځيده. کله چي شوروي پوځ پر افغانستان يرغل وکړ، نو لويديزې نړۍ په ځانګړې توګه امريکايانو هغه د فارس په خليج او منځني ختيځ کي خپلو انرژيکي ګټو ته يو ستر ګواښ وباله. ځکه يې روسانو ته په روښانه الفاظو ورياده کړه:
"د فارس د خليج د سيمې د کنترول لپاره د هر بهرنی ځواک هر ډول هڅه و هاند د امريکا د متحدو ايالتونو پر حياتي ګټو يرغل ګڼل کيږي او دا ډول يرغل به د هر ډول اړينو وسايلو، ان د پوځي ځواک په مرسته په شا وتمبول شي" [۴].
لکه څنګه چي په پورتنيو کرښو کي يادونه وشوه، له سړې جګړې مخکي او وروسته د انرژۍ سمبالښت او د نورو طبيعي اومه توکو د زيرمو کنترول د لويديزې نړۍ په ځانګړې توګه د متحدو ايالتونو د بهرني سياست بنسټيز ټکی ګڼل کيده. اوسمهال د هغې سره په سيالۍ کي نوي رامنځته شوي صنعتي هيوادونه، د نورو تر څنګ چين او هند هم غواړي، چي د خپل مخ په ودې اقتصاد د تندې د ماتولو لپاره، د فسيلي انرژۍ او نورو اومه توکو زيرمو ته لار ومومي. د بيلګې په توګه چين د تيلو او ګازو د ترلاسه کولو او د هغو پر زيرمو د کنترول لپاره په بهر کي د خپلي پانګي اچوني ونډه له ۵، ۳۰ ميلياردو ډالرو، کال ۱۹۹۵، څخه ۰، ۴۸ ميلياردو ډالرو ته، کال ۲۰۰۹ کي، لوړه کړه [۵]. د دغې پانګي بنسټيزه موخه د طبيعي اومه توکو او د تيلو زيرمو ته د لارې پرانيستل دي، چي چين وکولی شول د مالي کړکيچ په کلونو ۲۰۰۸ ــ ۲۰۰۹ کي زياتو دا ډول زيرمو ته لار ومومي. ځکه د مالي کړکيچ په ترڅ کي نه يوازې د اومه توکو او تيلو بيه ډيره راټيټه، بلکي د دې ځانګو ځيني نړيوالي او همدارنګه دولتي کنسرني هم له مالي ستونزو سره مخامخ شوې. د چين د ملی انرژۍ د اداري د مشر په وينا: "بيې راټيټې او شريکېدل ساده شوي دي" [۶]. له همدې چانس څخه په ګټې اخيستني سره "د چين د تيلو او کانونو د رااېستلو کنسرني په کال ۲۰۰۹ کي په ټوليزه توګه ۳۲ ميليارد ډالر د کنسرنو د رانيولو او په نورو هغو کي د شريکېدلو لپاره مصرف کړي دي، چي له دې شميره څخه يوازې ۱۷ ميليارد ډالره په بهر کي د تيلو د زيرمو د خوندي کولو لپاره لګولي شوي دي"[۷]. چين د مالي کړکيچ په بهير کي د نورو ترڅنګ امريکايي کمپنۍ، کونکوفيليپس ConocoPhillips، د ناروې د تيلو او ګازو کمپنۍ آويلکو اوفشور Awilco Offshore واخيستلې. همدارنګه د چين د تيلو ملی کمپنۍ د يوې مزايدې په ترڅ کي د عراق د روماېلا Rumaila نومي سيمې د تيلو د زيرمو د رااېستلو حقوق ترلاسه کړ. همدې موضوع ته په نغوتي سره، نيويارک ټايمز ليکي: "متحده ايالتونه په قهر دي، [چي] موږ خپلي ويني قربانوو او چينايان امتياز ترلاسه کوي"[۸].
د انرژۍ تر څنګ د ځينو اوسنيو صنعتي څانګو له پرمختياوو سره، نورو طبيعي توکو د انرژۍ هغو په څير ستراتيژيک ارزښت ترلاسه کړی دی. دغه ستراتيژيک توکي، په طبيعت کي لږپيداکيدونکي فلزات لکه سکانديوم Scandium، ايتريوم Yttrium او لانتان Lanthan او همدارنګه د لانتانيد Lanthanide څلورلس ډوله، پرازيوديم


افغان جرمن آنلاین په درېښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

Praseodym نیودیم، Neodym پرویتویم، Promethium زاماریم، Samarium اروپیوم، Europium گادولینیوم Gadolinium، تربیوم Terbium، دیسپروسیوم Dysprosium، هولمیوم Holmium، ایربیییوم Erbium، تولیوم Thulium او لوتیتیوم Lutetium، دي[۹].

له دغو لړپیداکېدونکو فلزاتو څخه په تیره د الکتروتخنیک او د وسلو په صنایعو کې زیاته ګټه اخیستل کیږي. لاندنی جدول د دغو طبیعي اومه توکو زیرمه لرونکي، تولیدونکي او لګښت کونکي هیوادونه په ښه توګه روښانوي.

د نړۍ په کچه د لړپیداکېدونکو فلزاتو د زیرمو ویش او د هغو تولید (په ټن)

| د هغو زیرمې | | | د هغو رااېستل شوې ونډه | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | **شمېرنې په زر ټن** | شمېرنې د سلمې له مخې | **۲۰۰۹ کال** | **شمېرنې په ټن** | شمېرنې د سلمې له مخې |
| متحده ایالتونه | ۱۳.۰۰۰ | ۱۳،۲ | برازیل | ۶۵۰ | ۰،۵ |
| استرالیا | ۵.۴۰۰ | ۵،۵ | چین | ۱۲۰.۰۰۰ | ۹۷،۰ |
| برازیل | ۴۸ | ۰،۰ | هند | ۲.۷۰۰ | ۲،۲ |
| چین | ۳۶.۰۰۰ | ۳۶،۵ | مالیزیا | ۳۸۰ | ۰،۳ |
| هم ګټي هیوادونه | ۱۹.۰۰۰ | ۱۹،۳ | ټولیز | ۱۲۳.۷۳۰ | ۱۰۰،۰ |
| هند | ۳.۱۰۰ | ۳،۱ | د هم ګټو هیوادونو، متحدو ایالتونو، استرالیا او نورو هیوادونو د تولیداتو په باب شمېرې نه دي وړاندې شوي. | | |
| مالیزیا | ۳۰ | ۰،۰ | | | |
| نور هیوادونه | ۲۲.۰۰۰ | ۲۲،۳ | | | |
| ټولیز | ۹۸.۵۷۸ | ۱۰۰،۰ | | | |

اخځ:
Fred Schmid: China, Krise als Chance? Aufstieg zur ökonomischen Weltmacht, isw - Report, Nr. 83/84, 2010, S.48

پورتنې شمېرنې د دې ښکارندوي دي، چې چین د لړپیداکېدونکي فلزاتو تر ټولو زیاتې زیرمې یانې د نړۍ ۵،۳۶ په سلو کې لري او په نړیواله کچه د هغو د صادراتو انحصار، ۰،۹۷ ٪ ، هم د دوي په لاس کې دی. خو د چین سیال هیواد، متحده ایالتونه هم د دا ډول زیرمو خاوند دی، خو د نسبی مزیت د قاعدې له مخې له خپلو دغو زیرمو څخه يې ګټه اخیستل په ټپه بند کړي دي. ځکه هغه د چین د کانونو سره د سیالۍ وړتیا نه لري. د لړپیداکېدونکو فلزاتو نور تولیدونکي هیوادونه برازیل، استرالیا، هند او مالیزیا دي. سربیره پر دغو هیوادونو، د دا ډول طبیعي توکو زیرمې د ګرونلندGrönland په ټاپو ۶، ۲ میلیون ټن او کانادا کې هم کشف شوې دي. جاپان د خپلو الکترو تخنیک صنایعو د اړتیا وړ لړپیداکېدونکي فلزات له ویتنام څخه واردوي[۱۰].
د الکتروتخنیک د صنایعو د څانګو په پراختیا او د مدرن تخنیک د تولیداتو په ودې سره، لړپیداکېدونکو اومه توکو ته په تیره لسیزه کې غوښتنه په بیساري توګه زیاته شوې ده. له دغو اومه طبیعي توکو څخه، په تیره نړۍ پرده لرونکي تلویزیونونوLCD، لپ تاب Laptops کمپیوترونو، د بریښنا د زیرمې او د هغې د لیږدولو په کیبلونو، موبایل تیلیفون او نورو خوځنده (سیار) مخابراتي او تفریحي وسایلو، الکترونکي (بریښنایي – بنزیني Hybrid) موټرو، د بریښنا سپما کونکو ګروپونو، بریښنا تولیدونکو بادي ژرندو (بادي جنریټورونو)، د لمر د انرژۍ په تولیدونکو وسایلو، کاتالیزاتورونو Katalysatoren او تر ټولو دمخه د وسلو جوړولو، په ځانګړې توګه د رهبري شوو توغندیو په صنایعو کې، ګټه ترلاسه کیږي[۱۱]. له پورتنې ارزونې دا پایله ترلاسه کیږي، چې لړپیداکېدونکي فلزات هم ستراتیژیک ارزښت لري. نو د چین د سیاستوالو په اند: " منځنی ختیځ تیل لري، چین د لړپیداکېدونکو فلزاتو خاوند دی" [۱۲].
لکه څنګه چې د اوپک سازمان د خپلو تیلو د رااېستلو ونډه او د خرڅولو بیه کنترول او نه غواړي خپل تور زر په ټیټه بیه خرڅ کړي، چین هم غواړي د کنترول شوو صادراتو له لارې خپل لړپیداکېدونکي فلزات په لوړه بیه نړیوال بازار ته وړاندې کړي. د چین د لومړی وزیر، وین جیاو باو Wen Jiabao په اند: "د تیرې پیړۍ د اتمې لسیزې په پیل کې موږ، خپل لړپیداکېدونکي فلزات د مالکې په بیه خرڅول، خو په حقیقت کې هغه د سرو زرو ارزښت لري"[۱۳].
چینایي سیاستوال په خپله اعتراف کوي، چې دوي د تیرې پیړۍ په وروستۍ لسیزه کې د ۱۷ډولونو لړپیداکېدونکو فلزاتو رېښتني ارزښت او ستراتیژیک مفهوم درک کړل. اوس هم "موږ د لړپیداکېدونکي فلزاتو د صادراتو په وړاندې خنډ نه رامنځته کوو، خو د هغو بیه او د صادراتو ونډه باید عادلانه او په تیره د چین د اړوندو صنعتي څانګو


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

راتلونکي وده هم په اغيزمنه توگه خوندي وي" [۱۴]. د چين د سياستوالو په اند، که د لږپيداکېدونکو فلزاتو صادرات لکه همدا اوس دوام ومومي، ياني د نړۍ د اړتيا ۹۷ ٪ کې د دوي له خوا سمبال شي، نو بنسايي زيرمې يې له ۱۵ ـ ۲۰ کلونو پورې خلاصې او بيا بايد دوي خپل د اړتيا وړ دا ډول اومه توکي له بهره راوارد کړي. همدا لامل دی، چې چينايانو د هغو د صادراتو په وړاندې تنکسياوې رامنځته کړې دي.

د تيلو او نورو طبيعي توکو پر زيرمو د کنترول، د هغو د کنسرنو اخيستلو او د لږپيداکېدونکو فلزاتو د صادراتو په وړاندې د تنکسياوو له رامنځته کېدو څخه، د چين د ولسي جمهوريت موخه:

ـ د خپلو زيرمو او ستراتيژيکو ريزرفونو ډکول؛

ـ د خپلې با دوامې اقتصادي ودې لپاره د اومه توکو تضمين؛

ـ او ترټولو مهم په نړيواله کچه د خپل سياسي ـ اقتصادي او په تېره ستراتيژيک اغيز پراختيا ده.

د چين د ستراتيژيک اغيز پراختيا، لويديزه نړۍ، په ځانگړې توگه د متحدو ايالتونو دولت، د خپل نړيوال دريځ لپاره يو ستر گواښ بولي. داسي برېښي، چې د دغې سيالۍ ډگر د اوراسيا سيمه او په هغې کې بيا منځنۍ اسيا او د هغې ستراتيژيک ور، افغانستان دی. د ناتو پوځي سازمان او متحده ايالتونه په دې هڅه کې دي، چې د خپلو سيالانو، چين او روسيې په وړاندې په دغې ستره لوبه کې برې ترلاسه کړي. څکه دلته هم سيالي د تيلو، گازو، نورو طبيعي توکو او په تېره د جيوستراتيژۍ پر سر دی، چې په افغانستان کې روانه جگړه د دغې سيالۍ لومړی پړاو دی. څکه افغانستان د خپل ستراتيژيک پريوت (موقعيت) او خپلو طبيعي زيرمو له پلوه دواړو خواوو ته ځانگړی ارزښت لري.

نور بيا

اخځايونه:


۱ ـ وگورئ: لومړی برخه

2- Kronberger, Hans: Blut für Öl. Der Kampf um die Ressourcen, Wien ,1998, S. 31

3- Yergin, Daniel: Der Preis. Die Jagd nach Öl, Gold und Macht, Frankfurt am Main, 1991, S. 26

4- Massarrat, Mohssen: Der 11. September und der Afghanistan-Konflikt im Kontext der US-Ölinteressen und Geostrategie, 2002, S. 2

۵ ـ وگورئ:

Fed Schmid: China, Krise als Chane? Aufstieg zur ökonomischen Weltmacht, isw ____ Report Nr. 83-84, 2010, München, S. 45

6- Ebenda, S. 45

7- Ebenda, S. 45

8- Ebenda, S. 45

۹ ـ وگورئ په:

http://de.wikipedia.org/wiki/Metalle_der_Seltenen_Erden

۱۰ ـ وگورئ هماغه اخځ

11- Fed Schmid: China, Krise als Chane? Aufstieg zur ökonomischen Weltmacht, isw ____ Report Nr. 83-84, 2010, München, S. 48

12- Ebenda, S. 48

13- Ebenda, S. 48

14- Ebenda, S. 48





افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ